**داکتر فاروق اعظم** **۲۰۱۷/۰۳/۱۰**

# زما خوري




**سکه خور او ورور**

زه او ته د یوه موروپلار اولاد یوو. زما او ستا په پیداینت او لویېدو کې یو ډول تکلیف ګالل سوی دی او د یوې کورنۍ په فضا کی راغبټ سوي یوو. د انساني ټولنې د جوړښت او ودې لپاره زه او ته دواړه یو شان ضرور یوو. که ته نه یې، زه هم نه یم او زما په بقا کې ستا بقا نغښتې ده. ته زما پرده او عزت او زه ستا حیا او حرمت یم (هن لباسکم و أنتم لباس لهن۞). ته د ټولنې سکون، الفت او رحمت یې او زه یی پیره دار او وقار. (وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ۞). خورې، زه او ته دواړه آزاد پیدا سوي یوو او د الله (ج) په وړاندې هم د مسؤولیت له مخې یو برابر یوو.
موږ دواړه یوشمېر حیواني خواص لرو، لکه : خوراک، څښاک، شهوت،غضب او داسې نور. زموږ دغه بهیمیه ځانګړنې اکثره موږ هڅوي چې د ځنګل په قانون وچلیږو چېرې چې د زورور برخه غټه ده.

خورې!

زما اوستا د بدن جوړښت توپیر لري او دغه توپیر زموږ دواړو سرنوشت هم بېل کړی دی. زه ترتا په تن نسبتا غټ او په جسم قوي یم، نو ځکه له درندګانو څخه د کور د حریم چې ته یې مهمه برخه یې د ساتلو دنده زما ده. داسې پېښې ډېرې راغلي، چې که زه نه وای تا له ځناورانو څخه ځان په یوازې سر په مشکله ساتلای سو. ما به ستا د هوسایۍ او خوښۍ لپاره تر کور بهر



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

سختي ګاللي او ستا د عزت د ساتلو لپاره که به اړتيا وه د سر قرباني ته هم تيار وم. زما دغي دندې زما اهميت په کورنۍ کې وځلاوه او ماته يې د کور د مشرتوب دنده را ترغاړې کړه. هو، زه د کور مشر شوم، خو ددې دا معنا نه وه چې زه تر تا ښه وم، بلکې د کور په کالبد کې روح ته وې.
څرنګه چې ستا د ژوند د وسايلو په تأمين او پټ ساتلو کې زما مثبت کردار و، نو تا به زما د مزيد توفيق دعاوې کولې او زما په مېړانه او بهادرۍ به دې هر وخت فخر کاوه. ته پر ما ډېره مهربانه وې. ځينې وخت به دې د خواخوږۍ له کبله له خپلې برخې خوړو څخه هم ماته راکړه چې ګويا زه د بهر درونډ کار کوم او پالنې ته اړتيا لرم. دغه حالت ستا برخه کرار کرار په کور کې تر ما کموله او ماته دغه امتياز خوند راکاوه. بالآخره مې داسې وانګېرله چې دا امتياز زما طبيعي حق دی او زه رښتيا ترتا ښه يم. پيغمبران، دعاة او مصلحين راغلل چې زموږ ټولنه بېرته تعادل ته راولې او ما بېرته پرخپل ځای کښېنوې. هغوی ويل چې انسانان ترحيواناتو لوړ يوشمېر معنوی ارزښتونه لري، چې بايد ويې ساتي او د هغوی پر بنياد وچلېږي. د ځنګل قانون يوازې د حيواناتو لپاره دی او انسانان بايد پرهغه ولاړ نسي، خو تر څه وخت تېرېدو وروسته د هغوی تعليمات هېر سول او ټولنه بېرته د ځنګل په قانون روانه سوه.
زه په تدريج د انساني قوانينو پرځای د حيواني چلند مرغوب سوم؛ ځکه چې په چور کې زما ګټه وه او د لويي برخې څښتن کېدم. کرار کرار مې د کور مقررات چې پخوا اخلاص پکښې حاکم و هم بدل کړل. اوس ته زما ترحق ډېر زما مراعات کوې، خو زه هغومره ستا نه کوم. په يوه کاسه کې ډوډۍ نه درسره خورم چې زما رعب، هيبت او دبدبه کمه نسي. له تاسره د ژوند په کارونو کې مشوره عيب بولم او پر تا مې هم دامنلې ده چې بايد داسې وکړم. ته زما مادي متاع يې چې څنګه کار درڅخه اخلم، اخلم يې؛ ستا ډېر څه نه دي په وس پوره. که دې پلورم يا پخپلو بديو کې دې ورکوم څه نسې ويلای او که ږغ هم وکړې، څوک يې نه اوري؛ داځکه د اورېدو څوک دې هم زه يم. که دې لوڅه پر ستېج راباسم او يا محضې سوداګريز اعلان درڅخه جوړوم او يا که کوم نامحرم خپله شهواني غريزه درباندې تسکينوي، نه يوازې خفه بايد نه سې بلکې شنه خوله د خندا بايد تللې هم يې.

خورې!

ته دا حق نه لرې چې له ما څخه پوښتنه وکړې چې: تا خپل ځان سر تر نوکه پټ کړی دی او ان ګرېوان دې هم په نيکټايي تړلی دی خو ما لوڅه غواړې وويني؛ دا ولې؟ ته دا نه سې راته ويلای چې زه ولې ستا د بدن د لوڅ ليدو حق ځانته ورکوم، خو تاته بيا دا حق نسته چې ما لوڅ وويني. زه به ولې سر تر نوکه ستا د بدن هر اندام ګورم او په تاسو کې به انتخاب کوم، چې کومه ښکلې ده او څوک زما حيواني غرايز ښه اشباع کولای سي؛ خو تاسې به دا امتياز نه لرئ. ته به ولې ماته دومره قدري هم نسې ويلای چې سړيه تاته ولې د نورو همنوعو ښکېلاک او زبېښاک دومره خوند درکړی دی چې اوس دې پر خپله خور مخ راګرځولی دی؟

خورې!

ما پرتا د ژوند ساحه دومره تنګه کړې ده، چې اوس ستا لباس هم بايد زما په خوښه وي. پخوا لوڅ مخ وې، ما درته وويل مخ پټ کړه، تا پټ کړ. بيا مې په اماني دوره کې درته ووې چې لوڅ مخ راووزه، تا چادري ته اور واچاوه او لوڅ مخ راووتې او ان زما د خوښې لپاره دې لينګي او مړوندونه هم لوڅ کړل. په سقاوي کې درته په قهر سوم چې بد دې کړي چې مخ دې لوڅ دی، پټ يې کړه؛ پټ دې کړ، خو جرئت دې ونکړ چې راته ووايې چې: تا راته ويلي وو چې لوڅ مخ راووزه. په ظاهرشاهي کې مې بيا درته وويل چې لوڅ مخ راووزه، ته راووتې. په کمونستي نظام کې درته وويل سول، چې مجردو او ورسترګو عسکرو ته په سنګر کې لوڅ مخ او سپين مړوندونه ودرېږه او په سرو شونډو د سره انقلاب ستاينې وبوله. ته به پر ستيج په خندا د خپل نژدی خپلوانو قاتلانو ته ګډېدې او ويل به دې (او سربازه ياره خيژه پر مورچل باندې ـ بيا به دې ويده کړمه سيوري د اوربل لاندې)؛ خو څوک له ورايه درپوهيدل چې په زړه کې ژاړې، ته مجبوره وې. ساعتونه ساعتونه به هره ورځ د ښار په يو چوک کې ستا له خوښې پرته درول شوې وې چې مفت (هنر دخلکو په خدمت کې) په پلمه موږ ته سندرې ووايې. تا بېچارې همداسې وکړل. مجاهدين راغلل، بېرته يې پوړنی پر سر درواچاوه او استاد رباني، خو د ښځو د تعليم ځايونه د فحاشې مرکزونه وبلل؛ طالبانو بالکل پر کور کښېنولئ چې مه راوزئ. تا همداسې وکړل. داځکه چې ته ترما په بدن کمزوره يې او د لاس اچولو نه يې، چې له ماسره يې معلومه کړې چې زه ولې له تاسره داسې کوم. اوس د ډيموکراسۍ په دوران کې مې درته وويل چې لوڅ مخ راووزه او ونځېږه. ته هم راووتې او تر دې حده زما د خوښې لپاره مخته پکې ولاړې، چې اوس داسې ځوان غزلچي او سندرغاړي (هنرمند) ډېر کم دي، چې ته يې پخپل بغل کې نه يې نځولې. پوهېږم، د ډيموکراسۍ تر عنوان لاندې به زما د خوښې لپاره نوره هم لوڅه راوتلې وای، خو له سبا وېرېږې. کوچنۍ زړوکی دې له دې ويرې پر سر نيمبند اچولی، چې مبادا سبا به دې بيا په شلاقو وهم چې چادري پر سر کړه او له کوره مه راوزه.

خورې!

ستا عزت په امن کې دی او ستا برخه يوازې د قانون په حاکميت کې خوندي ده، خو د ټولنې په امن او د قانون په حاکميت کې زما ډېره ګټه نسته. زما په جنګ، ناامنۍ او ناقانونۍ کې ګټې دي. ته وګوره، نن ټوله دنيا همداسې چلېږي. زموږ د نړۍ امن هممغوی خرابوي چې زورور او د امن ضامنان يې ځانونه تراشلي دي؛ ځکه چې په امن کې يې ګټه نه ده؛ په جنګ او چور کې

یی ګټه ده؛ ان د ملګرو ملتونو په مؤسسه کې چې د نړۍ د ټولو ملتونو کور دی، هم قانون او عدالت نه چلیږی ـ زورور پکې د ویټو حق لري.

خورې!

زه او ته دواړه یو جنس او له یوه مورو پلاره پیدا یوو، خو ته د خپل نازک بدن قرباني او زه پر خپلو غټو مټو غره یم. ته ما ډېره په حقارت کې ساتلې یې، تر دې چې ډېر کم وخت زما دغه تحقیر تا ځوروي؛ زما تبلیغات ستا احساسات دومره اغېزمن کړي، ځپلي او په واک کې راوستي دي، چې ته اوس زما تحقیر عین توقیر ګڼې. داځکه چې زه اوس د نورو په خطا ایستلو او استعمالولو کې ماهر سوی یم. ما ستا په حق کې ډېر تېرى کړى دى؛ ظالم یم – دومره چې د خپل ظلم بخښنه هم له تا څخه نه غواړم. دا به تر هغو کوم چې بیا کوم مصلح راپیدا سي؛ ما پرخپل ځای کښېنوي او اوسنی د ځنګل حاکم قانون چې زه یې چلوم په انسانی لیرلید او طرزالعمل بدل کړي. و ماذالک علی الله بعزیز.

پای